وحید فقیری (هاري) واشنگټن ۳۱/۰۸/۲۰۰۸

# د افغانانو سختي ورځي

په تېرو څو ورځو کي، بهرني مطبوعاتو او اخبارونو د افغانستان د وضعي په باب یو لړ مهم راپورونه خپاره کړي دي. البته، د خبرونو په سر کي، د هرات د شینډنډ ولسوالی غمجن قتل عام وو. د اکانومیسټ مجلي د امریکایي قواوو همدا قاتلانه بمباري " قصابي" بللي ده. مجله لیکي: " که چیري متحده ایالات په افغانستان کي ناکامه سي چي ښایي ناکامه هم سي، متحده ایالات به په افغانستان کي دماشومانو د قاتل په نامه یادېږي." د ملګرو ملتونو یوه هیات هم ویلي چي د عزیز اباد د ملکي او بی ګناه خلکو د قتل عام په اړه "قانع کونکي شواهد" لري. په تېرو اوو کالو کي، ښایي همدا متحده ایالاتو تر ټولو ستره قاتلانه او مرګانی بمباري وي. (اکانومیسټ : اګسټ ۲۸، ۲۰۰۸ )

د اګسټ پر ۲۱، د شپي په تیارو کي، امریکایي مخصوصو عسکروچي ویل کېږي د یوې قومي او سمتي بدئ پر بنسټ، د عزیز اباد کلی خپلو هوایي قوې ته ور په نښه کی، او هغوی پخپلو ړاندو او بې امانه بمباریو کي ٦۰ کوچینیان، او قریب ۳۰ ښځې، نارینه، او بسته کلی سټ کی. د کال ۲۰۰۱ د اشغال څخه را وروسته، امریکایي قوې په افغانستان کي پر بمباریو تکیه کړې ده. د یوې خوا، د طالبانو او نورو افراطیانو حملې مخ پر زیاتېدو دي، د بلې خوا، امریکا بمباریو ته زور ورکړی دی.

د امریکایي قوې ددې پالیسی لمړی علت دا دی چي امریکا په افغانستان کي کم عسکر لري، او غواړي چي د عسکرو د لږوالي تلافي په بمباریو وکړي. سږ کال، د ناټو په بمباریو کي ۵۰ فیصده زیاتوالی راغلی دی، او د سږ کال په جنګونو کي په زرهاوو تنه وژل سوي دي. دوهم، دا چي امریکا د افغانانو د ژوند، مال، او امنیت پروا نلري. دریم، دا چي ورو- ورو امریکا د شورویانو په شان په یوې مغروري او ظالمي اشغالګري قوې بدلېږي. څلرم، د کرزي حکومت پدې تېرو اوو کالو کي پدې ارتباط هیڅ د پام وړ اقدام ندی کړی.

د شینډنډ د قصابی په ارتباط، د افغانستان د یوځ دوه قومندانان برطرفه سول چي ویل کېږي همدغو دوو افسرانو امریکایانو ته غلط استخبارات ورکړي وه. د اکانومیسټ د مجلي د رپوټ په اساس، یو تاجیک عالي رتبه افسر دی چي د اسماعیل خان سره نږدې اړیکي لري. په کال ۲۰۰٤ کي، په همدې سیمه کي د اسماعیل خان او مخالفانو تر مینځ اخ و ډب پېښ سوی وو. داسي ښکاري چي دا لمړی ځل ندی چي د امریکا پوځي طاقت او امکانات د قومي او سمتي بدیو لپاره استعالېږي.

ددغو ټولو شواهدو او اسنادو سره سره، د امریکا د دفاع وزارت دریځ تر اوسه پوري دا دی چي پدې حملې کي ۲۵ افراطیان او پنځه ملکي کسان وژل سوي دي. د امریکا دپوځ لوی درستیز په یوه مطبوعاتي کانفرانس کي وویل: ما د ملګرو ملتونو او افغاني حکومت ادعاګاني اورېدلي دي، خو موږ باور لرو چي دا حادثه نده پېښه سوې. سرتمبه ګي او سپین سترګي خو همدې ته وایي. داسي برېښي چي امریکایي قواوو د ودونو، جنازو، او ملکي غونډو په نښه کولو باندي عادت نیولی دی. تېره میاشت، د هسکي مېني په غمجنه حادثه کي ٤٧ تنه ووژل سول. د پنتګان چارواکو ته پکار ده چي خپل ځان سبمال کړي، خپلي بې مهاره او تباه کونکي بمباري کنټرول کي، او یوې سیاسي او هر اړخیز حل ته غاړه کښېږدي. ځکه په بمباریو جنګ نه ګټل کېږي. امریکا، ناټو، او کرزي په افغانستان کي د سولې او ثبات د راوستلو په هلو ځلو کي سخت تر شا راغلي دي.

امریکایي قوې یوازي د جون په میاشت کي ۳۱۷۰۰۰ پاونده بمونه د افغانستان پر مختلفو سیمو باندي اورولي دي. په عراق کي، امریکایي قوه عموما ۲۵۰ پاونده بمونه اچوي، خو په افغانستان کي ۲۰۰۰ پاونده بمونه اچوي. د عزیز اباد ورانی او تباهی په باب د ملګرو ملتونو په رپوټ کي راغلی دی چي په کلي کي د بمباریو تخریب څرګند ښکارېده. اته کورونه کاملا سټ سوي وه. او زیاتره نور کورونه سخت تاواني سوي وه. روسي دسي شنبي په ورځ په ملګرو ملتونو کي، د یوه پرېکړه لیک مسوده وېشله . پدې پرېکړه لیک کي راغلي دي چي د ملکي کسانو مرګ ژوبله بین المللي ټولنه سخته اندېښمنه کړې ده ځکه دا لمړی ځل ندی چي په افغانستان ملکي او بې ګناه خلک په نښه کېږي. ( واشنګټن پوسټ :اګسټ ۲۷، ۲۰۰۸)

د حیرانیتا خبره داده چي فقط د ۱۹۸۰ په کلونو کي، امریکا په ملګرو ملتونو کي د شوروي پر خلاف همدا شان پریکړه لیکونه وپشل. مګر اوس، امریکا پخپله په هغه ځای کي راګیره ده چیري چي روسان شل کاله پخوا راایسار سوي وه. داسي برېښي چي تاریخ یو ځل بیا تکرارېدل غواړي.

بلخوا، د امریکا همدا اشتباهات د طالبانو لپاره کورت او غوړي دي. که چیري همدا پالیسي دوام پیدا کي، زه یقین لرم چي په افغانستان کي به امریکایان پخپله ځانونه ناکامه کي. په افغانستان کي، جنګ له کنټرول څخه وتلی دی. سیاسي پروسه په ټپه ولاړه ده، او د کرزي اداره په ناسور بدله سوې ده. د افغانستان په شمالي ولایتونو کي، د امریکا په ملاتړ د شمال ډلګیانو د ښځو او ماشومانو په بې عزته کولو کي مهارتونه تر لاسه کړي دي. هلته، د امریکا په ملاتړ د شمال ایتلاف جنګي جنایتکاران د ماشومو نجونو پر عزت او ناموس تېری کوي. هلته، په امریکایي ډالرو مست ډلګیان پښتانه خپلو کلیو او کورونو ته له ورتګ څخه را ګرځوي، او هر ګړی یې په مرګ او بې عزتی تهدیدوي. البته، په جنوب او شرق کي، د طالبانو، القاعدې، محلي ملیشاوو، ناټو، او امریکایي قواوو په نه تماميدونکو جنګونو کي سیمه ایز خلک سټ سول.

امریکایي عسکرو له ډیره وخته راهیسي په افغانستان کي د روسي جنرالانو تجربه سوې او ناکامه ستراتیژي غوره کړې ده. د یوې خوا، د جنګ د را ایسارولو لپاره بمباریو ته مخه کړې ده. بلخوا، په یوې قومي او جنګ ځپلي جامعي کي_ لکه افغانستان_ د قومي چوغلیو، بدیو، او لمسونو په اساس بمباری کول، عموما قاتل عامونه زېږوي. یو قتل عام پخپل وار مقاومت او مخالفت زېږوي. یو مقاومت جنګ، مرګ ژوبله ، او وراني زېږوي. همدا شریره لړی، د ولسونو او خلکو تر مینځ نه پخلاکېدونکي لانجي ایجادوي. موږ همدي درک ته وروسته له یوې بدې او اوږدې تجربې څخه رسېدلي یو. د روسانو د تجاوز د تاریخي تجربو په اساس ویلای سو چي هر هغه بهرنی طاقت چي په افغانستان کي بدې او نامعقولي پالیسي پلي کړي دي، هغه طاقت بالاخره ناکامه سوی دی.

همدارنګه،په همدې تېرو څو ورځو کي، طالبانو د خارجي قواوو پرخلاف دوې منظمې، مرګانی، او پېچلي نظامي حملي وکړې. د اګسټ د ۱۸ په حملې کي، لږترلږه لسو ځانمرګي سرتېرو چي په لسهاوو نورو جنګیالیو یې ملاتړ کاوه د خوست په ولایت کي په یوې امریکایي پوځي اډې باندي برید ښخ کی. دې جنګ ټوله شپه دوام لاره . امریکایي هوایي قوې بمباری کولې، او دواړو خواوو یو د بل پر خلاف باړونه چلول. یاغیانو غوښتل چي دننه اډې ته ننوځي، او یو ځل بیا د کونړ ولایت پېښه تکراه کي. مګر د اډې شا و خوا افغاني عسکرو یې مخه ونیوله. پدې حمله کي، درې امریکایي او شپږ افغاني عسکر ټپي سوي وه. ( نیویارک ټایمز: اګسټ ۲۰، ۲۰۰۸)

بله حمله، د اګست د میاشتي پر ۱۹ باندي په سروبي کي وسوه. څه دپاسه ۱۰۰ یاغیانو کابل ته څېرمه په فرانسوي عسکرو یرغل وکی. پدې حملې کي، لس فرانسوی عسکر وژل سوي، او شل نور ټپي سوي دي. د فرانسي جمهورریس وویل: " د ترورېزم پر خلاف په مجادله کي، فرانسویانو کاري ګوزار وخوړ. فرانسه به د دیموکراسی او د ترورېزم پرضد جنګ ته دوام وکي." د محلي چارواکو په وینا، پدې سیمه کي طالبان او د حکمتیار ډله فعاله ده.

ددغو دوو حملو سیاسي تحلیل دا ښیي چي پر امریکایي پوځي اډې او فرانسویانو باندي د طالبانو منظم او مرګاني بریدونه د ا فغانستان په روان جنګ کي د طالبانو په ستراتیژی او تاکتیک کي نوي بدلون ښیي. پخوا، طالبانو په انتحاري حملو، برید او تېښته، د سړونو په غوځولو، او د سړک د غاړي په بمونو ګوزاره کوله. مګر اوس د جبهیي حملو بندوبست کوي. د طالبانو په ستراتیژی کي دا نوی بدلون د هغوی د قوت او زور نښه ده. په بل عبارت، طالبان دونه قوي سوي دی چي کولای سي په سلهاوو جنګیالي منظم کړی او د یوه معین هدف لپاره یې وکاروي. منظمي او دقیقي حربي نقشي جوړي کړي او بیا یې په ډېر دقت او مهارت عملي کي. د طالبانو په ستراتیژی کي همدا نوی ستراتیژیک بدلون به نه یوازي موجوده تاوتریخوالی لا ډېر کړي، بلکي د افغانستان شرایط به نور هم پېچلي او خونړي کړي.

دغه راز، د طالبانو همدا ستراتیژیکي بدلون داښیي چي عامه افغانانو د طالبانو سره خواخوږي پیدا کړېده، یا حد اقل د حکومت او خارجي قواوو سره همکاري نه کوي. په عامه افکارو کي د همدې بدلون یو ا صلي عامل د امریکایي قوې بې امانه او مرګانی بمباری دي چي پدې وروستیو ورځو کي یې بېشماره بې ګناه او ملکي کسان وژلي دي. د شینډنډ،

کونړ، هسکه مېنه، ده راوت، او کندهار، هملند، کلات، او روزگان ډېري سیمي زیاتره ورځي د پرله پسي بمباریو سره مخامخ دي.

دا و روستي نظامي او سیاسي انکشافات نه یوازی د تامل وړ دی، بلکي په افغانستان کي امریکایي عسکرو ته د خطر زنگ هم دی. ځکه عموما په افغانستان کي په جنگ او پوځي لارو چارو باندي مشکل ندی حل سوی. هیله ده چي دامریکا د جمهوري ریاست تر انتخاباتو را وروسته، سپني مانی ته سیاسي عقل، منطق، او کفایت بېرته راستون سي. د افغانستان شرایطو ته توجه وسي، او د دوامداري مرگ ژوبلي مخه ونیول سي. ځکه د افغانستان وضعه ورځ په ورځ خطرناکه کېږي. پر کابل باندي د طالبانو دمحاصرې کړی ورو- ورو ټېنگېږي. پراخي سمیي، ولسوالی، او کلي د طالبانو او القاعدې تر ولکي لاندي کېږي. همدی کامیابیو طالبانو او القاعدې ته ددې فرصت برابر کړی دی چي په ارام خاطر په همدغو سیمو کي د نویو عملیاتو بندو بست وکي.

پوره اوه کاله ضایع سوي دي. که چیري د امریکا راتلونکي اداره د افغانستان د وضعي چاره ونکړي، یقینا امریکا په افغانستان کي ماتېږي. سمدستي به په افغانستان کورنی جنگ پیل سي. بالاخره به یو ځل بیا طالبان، القاعده، او ای ایس ای افغانستان ونیسي. او بیا به القاعده په سیمه او جهان کي دنویو ترورېستئ حملو بندو بست کوي. والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de